DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۸۲۴

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ.ش

لسم کال - دویمه دوره، ۸۲٤ مه گڼه، پر له پسې ۱۸۹۱ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د چنگاښ ۲۰ مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د رجب المرجب ۲۹ مه ۲۰۱۰ د جولای ۱۱ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د ناټو پنځه سرتېري ووژل شول

د ناټو په مشرۍ نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) د افغانستان په سویل او ختیځ کې د خپلو دوو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړ.

دغه خبر په کابل کې د یادو شویو ځواکونو مطبوعاتي دفتر له خوا د چنگاښ پر ۱۹مه، په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ورکړل شوی دی.

په خبرپاڼه کې زیاته شوې، چې دوه سرتېري یې پرون د افغانستان په ختیځ کې د وسلوالو مخالفانو په مخامخ بریدو کې ووژل شول او درېیم یې په ماین چاودنه کې وژل شوی دی.

سرچینې زیاته کړې، چې دوه نور سرتېري یې هم ژوبل شوي دي.

۳مخ

د کرزي او امریکا ترمنځ یو ځل بیا اختلاف راڅرګند شو

داسې ښکاري، چې د حامد کرزي او امریکایانو ترمنځ بیا جنجال او اختلاف سر راپورته کړی. امریکا غواړي، چې له طالبانو سره په جګړه کې له کلیوالو کار واخلي، چې حامد کرزي دا وړاندیز له ځپرمې رد کړ.

واشنګټن پوسټ کاږي: په افغانستان کې د ناټو عمومي قومندان جنرال پیټریوس تګلار، چې د طالبانو په مقابل کې بیا د سیمې استوګن پر وسله سمبال شي، کرزي له دې پروګرام سره خپل سخت مخالفت ښودلی او غبرګون یې زښت تېز و.

جنرال پیټریوس، چې تېره میاشت افغانستان ته د جنرال مکریستال ځایناستي په توګه راغلی دی وایي: زما تاکنه د دې مانا نه ورکوي چې زمونږ ستراتیژي هم بدله شوې ده.

واشنګټن پوسټ زیاتوي د کرزي او جنرال پټریوس ترمنځ لومړنی لیدنه د ډېره ترینګلې وه او کرزي د امریکا دا پلان رد کړ، چې کلیوال دې پر وسله سمبال شي.

دیادونې وړ ده، چې د کلیوالو مسلح کول په افغانستان کې د امریکا د ستراتیژۍ بنسټیزه برخه ده، چې هر کلیوال به خپله سیمه په خپله ساتي، خو د کرزي نټه (انکار) د پیټریوس لپاره ګواښ دی. امریکا غواړي، چې په افغانستان کې نور شل مرکزونه پرانېزي او د کرزي د راضي کولو هڅه کوي. د روهي وېښې د راپور له مخې، دا یوه ډېره حساسه موضوع ده، ځکه په افغانستان کې د ډېرو ویرو او اندېښنو شته، چې بیا جنګسالاران رامنځته شي.

ایران په افغانستان کې پوهنتون جوړوي!

د ایران دولتي رسنیو خبر ورکړی، چې ایران پټېلې په افغانستان کې یو نړیوال (!) پوهنتون جوړ کړي. په کابل کې د ایران سفیر فدا مالکي په هغه غونډه کې، چې د جمعې په شپه ۹،۰۷،۲۰۱۰ ز کې د دغه هېواد په سفارت کې د ((نشست هم اندیشي استادان زبان و ادبیات فارسي دانشگاه های افغانستان)) (د افغانستان د پارسي ژبې د هم انده استادانو غونډه) تر سرلیک لاندې جوړه شوې وه، په ډاګه کړه، چې ایران په پام کې لري، په افغانستان کې یو نړیوال پوهنتون جوړ کړي، چې اصلي محور به یې پارسي ژبه وي.

نومورې زیاته کړه، چې په دې هکله د افغانستان حکومت سره هم خبرې شوې او د ایران حکومت هم په کاري پلان کې دا موضوع نیولې ده. د یادولو وړ ده، چې ایران په سیمه کې د خپلې پراختیا غوښتنې سیاست پر بنسټ او د سه کشور فارسي زبان (!) په پلمه داسې پروژې رامخکې کړي لکه: ((تلویزیون سه کشور فارسي زبان))، ((بانک سه کشور

۳مخ

د دولایتي شوراګانو واکونه ډېرېږي

د افغانستان د اتو ولایتونو د ولایتي شوراګانو غړو د شنبې پر ورځ په کابل کې د غوره استازیتوب په نامه په یوه غونډه کې ګډون وکړ. دغه غونډه د افغانستان د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري له خوا جوړه شوې وه. د افغانستان د سیمه ییزو ارګانونو د اداري چارواکي وایي، چې په ولایتونو کې د اجرایه قوې د صلاحیتونو په زیاتېدلو سره د ولایتي شوراګانو د غړو صلاحیتونه هم زیات شوي دي. په افغانستان کې د سیمه ییزې حکومتداری د څارنې په هدف د ولایتي شوراګانو صلاحیتونه زیات شوي دي.

دغه ځرګندونې د افغانستان ۳مخ

شان نیلور روزنامه نګار امریکایی:

پیش بینی پیروزی جنگ افغانستان بسیار دشوار است

کاستن از شمار تلفات غیرنظامیان در افغانستان گام مهمی به سمت پیروزی است

نویسندۀ ارشد نشریۀ آرمی تایمز (تایمز ارتش) تاکید کرد، پیش بینی پیروزی جنگ افغانستان بسیار دشوار است. به گزارش شبکه تلویزیونی راشیاتودی روسیه؛ شان نیلور دربارۀ تاثیر انتصاب جنرال پترائوس بر جنگ افغانستان گفت، بعید به نظر می رسد که مقررات جنگ و استراتیژی آن تغییری بکند.

البته در کنار این استراتیژی جنرال پترائوس دستورهایی هم داده است که عمدۀ آنها حرکت نیروها و واسطه زرهی به گونه ترتیب شود که آسیبی به غیرنظامیان افغان نرسد و باعث رنجش آنها نشود و دستور دیگر دربارۀ استفاده از آتش غیرمستقیم نظیر آتش توپخانه و آتش هوایی است که تاکید شده در استفاده از آنها بسیار احتیاط شود، مگر اینکه حفاظت از جان نیروهای امریکایی استفاده از این ابزارها را ایجاب کند. چنین دستوری باعث می شود، تا نظامیان امریکایی در صورتی که تشخیص دهند، جان شان در خطر است، از آتش غیرمستقیم استفاده کنند. این کارشناس افزود، به نظر من، جنرالان و همچنین سیاستمداران امریکایی بر این باور اند که کاستن از شمار تلفات غیرنظامیان در افغانستان ص۳

فرهنګ و مبارزات انتخاباتی

۲

د بدخشان په شمول په هېواد کې د ناامنۍ تازه څپې

په بدخشان کې، چې په نسبي ډول د افغانستان ارام ولایت ګڼل کېږي، د سړک د غاړې د ماین په چاودنه کې پنځه پولیس وژل شوي دي.

د بدخشان د امنیې قوماندان جنرال اقا نور کینتوز پرون وویل، چې چاودنه په کشم ولسوالۍ کې د پولیسو په رنجر موټر شوې.

د پېښې مسولیت تر اوسه چا پر غاړه نه دی اخیستی. د امنیتي چارواکي وایي چې د پېښې په اړه تحقیقات روان دي.

د روان کال په پیل کې دې ته ورته چاودنه شوې وه او یوشمېر پولیس په کې وژل شوي وو.

بلخوا په کندهار ولایت کې هم پرون له غرمې وروسته چاودنه وشوه، چې یو ملکي وګړی په کې وژل شوی او دوه نور ټپیان دي.

د کندهار د امنیت امر فضل احمد شهرزاد پېښه تاییدوي او وایي، چې دغه پېښه د کندهار ښار د شهیدانو څلور لارې ته نژدې شوې ده.

نوموړی زیاتوي، چې چاودېدونکي توکي په یوه موټرسایکل ځای پر ځای شوي وو.

له پکتیا څخه هم راپور لرو، چې پر یوه موټر نامعلومو وسلوالو حمله کړې او یوولس ملکي کسان یې وژلي دي.

د پکتیا د والي ویاند روح الله سمون وایي، چې دا پېښه پرون سهار هغه مهال وشوه، چې یو بس موټر د کرمې ایجنسی له خوا د څمکنیو له لارې د ګردیز په لور روان و، چې د نامعلومو وسلوالو له خوا ورباندې ډزې وشوې.

د پېښې مسولیت تر اوسه چا پر غاړه نه دی اخیستی، خو امنیتي چارواکي وایي، چې د پېښې په اړه تحقیقات پیل شوي دي.

د یو بل خبر له مخې د خوست - ګردیز پر لاره د اسماعیل خېلو په سیمه کې د ایتلافي ځواکونو پر کاروان پرون سهار د بم چاودنه وشوه.

د تاند د راپور له مخې، ایتلافي ځواکونو پېښه تایید کړې او ویلي یې دي، چې په دې پېښه کې د دوی یو سرتېری ټپي شوی او یو موټر یې لامنځه تللی.

خو طالبانو چې د پېښې مسولیت پر غاړه اخیستی وایي، دا یوه ځان وژونکې حمله وه، چې لس بهرني سرتیري یې په کې وژلي او دوه موټره یې له منځه وړي.

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

کمرنگی کمپاین انتخابات

کمپاین انتخابات پارلمانی شهر کابل را به بازاری از عکس های کاندیدان مبدل کرده است. اما این تبلیغات در برخی از ولایاتی که اوضاع امنیتی آنها خوب نیست، این کمپاین بسیار ضعیف می باشد و نسبت به شهر کابل بسیار فرق دارد. در حالی که کمپاین انتخابات باید در تمام ولایات یکسان و متعادل باشد. در پایتخت بعضی از کاندیدان کوشیده اند، تا عکس بهتر و یا حتا جوانتر شان را به نمایش بگذارند و برخی از تصاویر به روشنی معلوم می شود که در اصل قیافهٔ کاندید بسیار متفاوت است و با استفاده از هنر کمپیوتر بر زیبایی خود افزوده اند. اینکه قیافه های تصنعی بر رای، رای دهنده گان چقدر اثر خواهد گذاشت و از این طریق چقدربه جلب آرای موفق خواهد شد، در عمل دیده شود. اما باید این را روشن ساخت که فرق بین تصاویر کاندیدان و هنرمندان فلمی وجود داشته باشد، در حالی که برخی از این کاندیدان به اشکال گوناگونی فیگور گرفته و بدن خود را به نمایش گذاشته، در حالی که باید تفکر و مغزهای شان را به مردم نشان دهند. چون اکثر کاندیدان دورهٔ گذشته که کامیاب شدند، خیلی زیبا و مقبول نبوده اند و کمپاین نباید به یک نمایشگاه عکس شباهت داشته باشد و اینکه این تصاویر چقدر می تواند، نظر مردم را جلب کند و در رای مردم اثر بگذارد، باید در ۲۷ سنبله دید.

در کنار نصب این همه تصویر، برخی از کاندیدان چند و یا چندین دفتر کمپاین در جاهای مختلف باز کرده اند. این دفاتر، به خاطری باز شده که مردم در آن رفت و آمد کنند و کاندیدان برنامه های شان را برای شان تشریح کنند، اما اینکه اکثر این کاندیدان حرفی برای گفتن ندارند و مردم نیز هیچ گونه علاقه و شوری نسبت به این انتخابات از خود نشان نمی دهند، پس معلوم نیست که این دفترها چه کاری برای کمپاین انجام می دهند، برخی از این دفترها چنان سرد و بی روح است که کسی به سوی آنها نیم نگاهی هم نمی کند. به هر حال، این رسم کمپاین است و باید این کلیشه ها این بار هم تکرار گردد، مخصوصا که بعضی از این کاندیدان، پول هایی از جاهای کمک می گیرند و باید مصرف کنند.

شاروالی کابل و کمیسیون برگزاری انتخابات این بار به طور جدی اعلان می دارد که هیچ کاندیدی حق ندارد که عکس خود را بردیوارها و خانه های مردم بچسپانند، چون در چند انتخابات گذشته مردم از این بابت به ستوه آمده و شکایت های بسیاری سر دادند. تیم های کمپاین کاندیدان شبانه عکس ها را بر در و دیوار مردم و بدون اجازه نصب می کردند و به این ترتیب، این دیوارها را چتل کرده که برای پاک کاری ضرورت به پول داشتند. با تمام اینکه کمیسیون برگزاری انتخابات، امسال کاندیدان را از این بد فرهنگی برحذر داشته اند، اما بازهم سخنگوی کمیسیون می گوید که تا حال حداقل ۳۰ کاندید در این زمینه تخلف داشته که برای شان گوشزد شده است و این را هم می گوید که در صورتی این کار ادامه پیدا کند، کاندیدان متخلف را به کمیسیون سمع شکایات و یا سارنوالی معرفی خواهد کرد. اما با تمام این اخطار ها بازهم در همین پایتخت ده ها عکس کاندیدان نه تنها بر دیوارها، بلکه بر پایه های برق و حتا بر دیوار تشناب ها چنان چسبیده که مدت ها دور نخواهد شد.

با این محدودیتی که برای نصب تصاویر کاندیدان اعلان شده، اکثر آنان تصاویر بزرگ و پرمصرف خود را در اکثر جاده ها به شکل پوستر نصب کرده و از این درک شاروالی تکس می گیرد. اکثر این تصاویر در پشاور و لاهور به چاپ می رسد و از این بابت چاپخانه های پاکستان ملیون ها دالر عاید می کنند. یکی از مواردی که تا حال توجه همه را تا حال جلب کرده، این است که کمتر تصویر وکلای پیشین که بار دیگر خود را کاندید کرده اند در شهر کابل نصب شده است. اینکه چرا تا حال آنان به این کار مبادرت نورزیده، تجاربی است که از کمپاین گذشته دارند. در کمپاین گذشته، عده یی از کاندیدان در همان روزهای اول دار و ندار خود را نصب کردند و در روزهای آخر کمپاین که مهمترین روزهای کمپاین انتخابات است، چیزی برای پخش نداشتند و تصاویر پخش شده یی روزهای اول هم در این مدت با باد و باران از بین رفت وبه این ترتیب، برخی از کاندیدان در روزهای آخر کمپاین که به روز انتخابات نزدیک می شود و بسیار مهم است، چیزی برای پخش کردن نداشتند.

حال اگر مروری بر تصاویر به نمایش گذاشته شدهٔ کاندیدان انداخته شود، کمتر از یک درصد عکس های وکلای قبلی به نظر می رسد و این نشان می دهد که کاندیدان جدید با سرعت و دست و پاچگی دار و ندار شان را روی بازار کرده اند.

چیز دیگری که در تبلیغات این کمپاین به طور برجسته خودنمایی می کند، اینکه بسیاری از کاندیدان یا نمی دانند که وظیفهٔ یک وکیل پارلمان چیست و یا اینکه می داند، اما با اعلانات نادرست و غیرواقعی می خواهند، تا خاک به چشم مردم بزنند و به این صورت کاسبکارانه رای مردم را بقاپند. در پایین تصاویر بسیاری از این وکلا نوشته شده که تامین عدالت، ساختن پل و پلچک، رشد و توسعهٔ معارف، توسعهٔ کلینیک های صحی و غیره. این کاندیدان نمی دانند که با به دست آوردن رای مردم قاضی، رییس فواید عامه، رییس و وزیر معارف، شاروال و غیره مقرر نمی شوند. این کاندیدان باید با دقت وظایف شان را بدانند و تبلیغاتی را در چارچوب آنچه وظایف پارلمان است، ترتیب دهند، تا از یکطرف مردم هر چه بیشتر از وظایف یک وکیل پارلمان آگاه شوند واز سوی دیگر، موکلان شان را به جزیرهٔ رویاها و کذب گویی ها نبرند.

کمپاین نمودن برای هر کاندیدی ضروری است. اما برای هر کاندید پارلمانی حدود و شرایط قانونی خاصی وجود دارد که اگر رعایت نشود، از همین حالا کسانی که باید در آینده قانون وضع کنند و نظارت بر قانون داشته باشند، چون شکننده گان قانون عمل نموده که از چنین افرادی در آینده نباید امیدی به قانون گذاری و مهمتر از آن نظارت بر قانون و ایجاد یک جامعهٔ قانونمند داشته باشیم.

در حاشیهٔ انتخابات مجلس نماینده گان:

فرهنگ و مبارزات انتخاباتی

به قلم: دکتراندس م. نبی هیکل

بحث فرهنگ در دوران مبارزات انتخاباتی از اهمیت ویژه یی برخوردار است؛ زیرا در دوران مبارزات انتخاباتی هم فرهنگ انتخاب شونده گان و هم فرهنگ انتخاب کننده گان به گونهٔ مشخص و معین آن تبارز می یابد. تحمل و بردباری، همکاری و همبستگی، اعتماد وفاداری، فردگرایی و ایگویزم و در نهایت میهن پرستی، انصاف و عدالت به حیث عناصر متبارز هویت فرهنگی سیمای فرهنگ ملت ها را می سازند. این درک نگارندهٔ این سطور از فرهنگ به معنای راه و رسم است.

فرهنگ عبارت از موضعگیری ها، معتقدات، علایم و ارزش هایی است که به صورت کل بیشتر از راه آموزش به دست می آید، تا از راه ارث (اندریو هیوود. ۲۰۰۷،ص ۴۴۸).

این تعریف دشوار و مشخصی دارد و آن به همزیستی و تضاد میان نو و آنچه می باشد که به گونه یی از نسل به نسل انتقال می نماید. اساس فرهنگ در آموزش قرار دارد و آموزش در فراز و نشیب زمان از آب در می آید. به این ترتیب، فرهنگ عنصر موروثی نیز دارد.

همچنان لازم است، سیماهای مادی و معنوی، رسمی و غیررسمی فرهنگ را نیز باید در نظر داشت. بحث کنونی ما بر آن بعد فرهنگ ارتباط می گیرد که در زنده گی روزانه با آن رو به رو هستیم و گویا هر روز آن را احساس و تجربه می نماییم. این فرهنگ به عنوان راه و روش اندیشه و عملکرد تا آن سطح نزول کرده که به معجون مرکبی از خود نفع گرایی و هراس از همنوع تبدیل گردیده است.

فرهنگ والا و غنی دیگر تنها به حیث سرمایهٔ ملی و گنجینهٔ فرهنگی که به ارث به ما رسیده می تواند تلقی گردد و کمترین نماد زنده رابطه آن با زنده گی روزانه و واقعی را نمی توان شاهد بود. تجسم مادی و معنوی فرهنگ و بازتاب آن در زنده گی روزانه، این باوررا به وجود نمی آورد که ما از لحاظ اندیشه و عمل، نماینده گان و بازتاب دهنده گان آن فرهنگی والا هستیم که در گنجینهٔ فرهنگی ما وجود دارد آن و به می بالیم. هرگاه با واقعیت به مسأله بنگریم و از تخیل بیرون آییم می توانیم با صراحت دریابیم که اندیشه و عمل ما با آنچه فرهنگ و ثقافت اسلامی نامیده می شود، کمتر سر آشنایی دارد. از نگاه اندیشه و عمل، لایه ها و اقشار اجتماعی مبیین تفاوت های نه چندان اند. در مهمترین ابعاد اکثریت باهم مشابه می اندیشد و عمل می نماید.

فرهنگ ما به حیث راه و رسم اندیشه و عمل با خود نفع گرایی، برخورد نیمبی، تنگ اندیشی و تعصب در زنده گی روزانه به حیث مشخصه های متبارز شناسایی می گردد.

خود نفع گرایی انسان ما را که از بسا جهات مانند دین، وطن و افتخارات مشترک ملی و تاریخی با همدیگر پیوند دارد، به ماشین حساب مبدل کرده است که تنها نفع خویشتن را در اقتصاد و در سیاست، در دین و مذهب محاسبه می نماید.

برخورد نیمبی (Not in My Backyard) به چیز بیشتر از فردگرایی می انجامد. مصوون نگهداشتن خود به قیمت عدم مصوونیت دیگران عصارهٔ این برخورد است. خود را در عقب دیوارهای کانکریتی پنهان کردن، تاسیسات دولتی و غیردولتی، برخورد مردم عام با تنظیف و صفایی مثال های عمدهٔ این برخورد در زنده گی روزمره است. در راننده گی راننده با بی تفاوتی در برابر سایر راننده گان و استفاده کننده گان از جاده عبور می کند؛ این بی تفاوتی را در می یابیم که هرکه تنها به خود می اندیشد و برای زود رسیدن و سبقت از دیگران تلاش دارد. دکاندار که پیاده رو را به حیث بخشی از دوکان خود می پندارد و هنگام جاروب و آب پاشی به عابر بیچاره نمی اندیشد، ماموری که هنگام اجرای وظیفه تنها به کمایی می اندیشد، نه به مسوولیت و قانون، همه چنین برخورد می نمایند. برخورد نیمبی بیانگر بی تفاوتی در برابر دیگران و جامعه است.

تنگ اندیشی و تعصب مشخصهٔ دیگری است که سیمای فرهنگ زنده را می سازد. زنده گی روزمره نشان می دهد که تنگ اندیشی در دوشکل دگما و یا تحجر فکری و کوررنگی سیاسی با صراحت دیده می شود.

برخی از نامزدان انتخابات مجلس نماینده گان و سایل رقابت را از راه تقدس هدف شان تبریه می نمایند و حتا برخی ممکن است بخواهند، تنها تصاویر آنها در شهر به نمایش نهاده شود. نصب تصاویر و پوسترها و شیوهٔ برخورد با تصاویر سطح و عمق اندیشه و عمل برخی از شهروندان را نشان می دهد که با کوتاه فکری و ساده انگاری با مبارزات انتخاباتی و اهمیت آن برخورد می نمایند.

فرهنگ شهرداری نه تنها به شهروندان، بلکه به شهردار نیز، ارتباط دارد.

ص۳

په خوست کې ۲۰۰ علماوو د سولې د جرګې د پرېکړو ملاتړ وکړ

اراده، خوست – د خوست ولایت د بېلابېلو ولسوالیو شاوخوا دوو سوو دیني عالمانو د یوې پراخې غونډې پرمهال د سولې د ملي مشورتي جرګې له ټولو پرېکړو ملاتړ اعلان کړ.

د خوست والي عبدالجبار نعیمي دیني عالمانو ته وویل، په دې کې هېڅ شک نشته چې د علماء کرامو مقام او منزلت د اسلام په مقدس او پاک دین کې ډېر لوړ او اوچت دی، دا ځکه چې علماء دانبیاوو علیه سلام په امتونو کې د هغوی نایبین او په علم کې د هغوی وارثان دي.

ده وویل، علماء هغه ځوک دي، چې کشر او مشر، غریب او بډای او د ټولنې هر وګړی هغوی ته زیاته ارتیاء او قدر لري.

خوست والي له عالمانو وغوښتل چې علماء کرام دې خپلو دیني مسوولیتونو ته په پام سره د پاک او سپېڅلي شریعت احکام خلکو ته بیان کړي، تر څو خلک د حق او باطل تر منځ په توپیر ښه پوی شي او دغه ټولنه له شته بدبختیو خلاصه شي.

خوست والي نعیمي زیاته کړه: ((پر علماوو واجب ده چې د اسلامي امت خیر وغواړي، هغوی ته دین او د دین احکام وښیي، د نا امنیو، ظلم، ناروا، تیریو، د یو او بل د حقوقو تر پښو لاندې کولو، ببځایه وینه تویولو، قتل، غلاوو، قطاع الطریقیو، د ځمکو غصبولو او د اخلاقي ډول ډول فسادونو د مخنیوي په لاره کې خپل دیني، هېوادنی اوملي مسوولیتونه اداء کړي او په دې لاره کې خپل تبلیغات دجوماتونو د ممبرونو له لارې پیل او جاري وساتي.))

عبدالجبار نعیمي دیني عالمانو ته په خطاب کې وویل چې تاسو ټولو ته څرګنده ده چې هېواد دیرش کلنې جګړې سخت ځپلی، په میلیونونو هېوادوال شهیدان شوي، له هغوی څخه کوندې، یتیمان راپاتې دي، د جنګ له کبله هېواد تباه، ټولې مادي شتمنۍ له منځه تللي، کور، کلی او کرونده تباه شوي دي.

نومورې په دوی غږ وکړ: ((راځئ نور په دې هېواد او هېوادوالو زړونه وسوزوو او د جنګ جګړو، ظلم، زور زیاتي، بې عدالتۍ، ورور وژنې او نورو ناروا اعمالو په وړاندې په ګډه خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړو، د اتفاق او اتحاد لاسونه سره ورکړو، همداشان د ملي روغې جوړې او ملي پخلاینې په لاره کې هرډول هلې ځلې پیل او جاري وساتو، د سولې ملي مشورتي جرګې څخه چې د ولسمشر حامد کرزي په نوښت څه موده مخکې په کابل کې جوړه شوي وه، د هغوی د پرېکړو او تصامیمو په عملي کولو کې خپل مسؤلیت اداء کړو او

۳مخ

د ناټو پنځه سرتېري ووژل ...

پرون د افغانستان په سوېل کې د ماین په چاودنو کې وژل شوي دي.
ایساف، د وژل شویو سرتېرو هویت او د پېښې کره ځای نه دی په ډاګه کړی. د پژواک د راپور له مخې، پرون سهار هم، ایساف د افغانستان په سوېل کې د خپلو دوو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړی و.
د روان زېردي کال له پیل راهیسې د هېواد په ېلا ېلو سیمو کې ۳۵۱ تنه بهرني سرتېري وژل شوي دي.

ایران په افغانستان کې پوهنتون ...

فارسي زبان))او داسې نور.
د سیمې د چارو کارپوهان وایي، چې ایران د دې هڅو تر شا سیاسي موخې لري او بل غواړي دا هر څه د نورو قومونو د حق تلفي او د زیان رسولو په قیمت ترسره کړي. د روهي وېښې د راپور پر اساس، باید وویل شي، چې څو ورځې دمخه د کابل د پوهنتون محصلانو او د زده کوونکو له دې امله لاریون کړی و، چې دوی ته دا امکانات نه ورکول چې په مورنۍ ژبه زده کړه وکړي او حکومت یې له دې امله پرې وباله، چې دا ډول په ساتلو کې خپله دنده نه ترسره کوي.

د ولایتي شوراګانو واکونه ...

د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري مشر غلام جیلاني پوپل د شنبې پر ورځ د یو شمېر ولایتونو د ولایتي شوراګانو د غړو په هغې غونډه کې وکړي، چې د غوره استازیتوب په نامه په پلازمینه کابل کې جوړه شوې وه.
ښاغلي پوپل وویل، چې دغه اقدام په ولایتونو کې د اجرایه قوې د صلاحیتونو تر زیاتولو وروسته شوی دی :(د اجرایه قوې صلاحیتونه په ولایتونو کې زیات شوي) ښاغلي پوپل دغه شان مخالفانو سره د سولې او پخلاینې په پروسه کې د ولایتي شوراګانو رول اغیزمن وبالله او په دې برخه کې یې د دوی پر هڅو ټینګار وکړ.
د یادونې ده چې دا په کابل کې د غوره استازیتوب په نامه د ولایتي شوراګانو لپاره د افغانستان د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري څلورمه او وروستۍ غونډه وه.
په دغه غونډه کې د افغانستان د اتو ولایتونو دایکندي، سرپل، سمنګان، تخار، غور، کندهار، پکتیکا او هرات ولایتونو د ولایتي شوراګانو غړي راغونډ شوي وو.
د افغانستان د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره په داسې حال کې د ولایتي شوراګانو د صلاحیتونو د ډېرېدلو خبره کوي، چې د دغه شوراګانو یو شمېر غړي دا انتقاد کوي چې سیمه ییزې اداري د دوی خبرو او پرېکړو ته غوږ نه ږدي.
د کندهار ولایت د ولایتي شورا غړي حاجي فدا محمد په دې اړه ازادۍ راډیو ته وویل: (د دولت پاملرنه ولایتي شورا ګانو ته کمه ده ان په کومو پروژو کې یې د ګډون حق هم نه دی ورکړی)
تر دې دمخه هم په ولایتونو کې د ولایتي شوراګانو د غړو له خوا ورته انتقادونه شوي دي، خو د افغانستان د سیمه ییزو ارګانونو د اداري چارواکي ډاډ ورکوي، چې په دې برخه کې ستونزې هوارېدونکې دي.
د افغانستان د ولایتي شوراګانو لپاره انتخابات د تېرکال د زمري د میاشتې پر ۲۹ مه نېټه د ولسمشرۍ د انتخاباتو سره یو ځای تر سره شول.

په خوست کې ۲۰۰ علماوو د سولې د جرګې ...

خپله ټولنه، سیمه، کور، کلی او خپل هېواد په ګډه اباد کړو.))
نعیمي دوی ته ډاډ ورکړ چې دی له دیني علماء کرامو، د مدرسو له استادانو او زده کوونکو سره ځانګړي مینه لري او ددغې مینې پر بنسټ د هغوی د ستونزو او مشکلاتو د حل لپاره د لارو چارو لټول او له هغوی سره هر ډول مرسته دده د کاري لومړیتوبونو، او د کاري پلانونو یوه برخه جوړوي او دا به یې هڅه وي، چې د علماء کرامو، خطیب صاحبانو، ملاء امامانو، مسجدونو، مدرسو، د مدرسو د مدرسینو او زده کوونکو ټولې ستونزې په خپل وخت حل او هغوی ته د پای ټکی کیږدي.
هغه په خپلو خبرو کې دوی ته زیاته کړه : ((نن مور او تاسو په یوه ازموینه کې قرار لرو، راځئ خپل دیني رسالت او مسؤلیت په ښه توګه اداء کړو، تر څو ولس مو نېکې لارې ته سوق کړی وي او ټولنه مو له ټولو مفاسدو پاکه شوي وي.))
نعیمي دخپلو خبرو په لړ کې زیاته کړه، چې د غلا، اختلاس او هر ډول ناوړه اعمالو په مخنیوي او له منځه وړلو کې یې کلک هوډ کړی او په دې سپېڅلي هدف کې به هر ډول قرباني ورکوي.
نوموړي په عالمانو هم غږ وکړ، چې د پورتنیو ناوړه کارونو په مخنیوي کې ورسره ودرېږئ او په دې لاره کې هېڅ ډول وېره او اندېښنه ونه کړئ.
نعیمي له دیني عالمانو څخه هیله وکړه چې له دولت سره هېڅ ډول فاصلې پیدا نه کړي او په هره ستونزه کې ورسره نېغ په نېغه اړیکه ونیسي او د ولایت له مقام څخه نیولې تر ټولو ولایتي ادارو پورې د دفترونو دروازې د هر وخت لپاره د عالمانو پر مخ پرانېستي دي.
په خوست کې د علماوو د شورا رییس مولوي محمدایوب هاشمي د سولې د ملي مشورتي جرګې د پرېکړو په اړوند خبرې وکړې.
مولوي هاشمي زیاته کړه، چې علمان کولای شي، چې په خپله ټولنه کې د هرډول ستونزو او بدبختیو مخه ونیسي، ځکه چې په افغاني ټولنه کې دیني عالم ته خلک په درنښت ګوري.
نومورې وویل : ((د یوه عالم په توګه خوښ یم چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د هېواد په کچه دیني عالمانو ته په لازم قدر او احترام قایل دي او په دې سره یې په ترسره شوي ملي مشورتي جرګه کې هم د پام وړ ځای ورکړی.))
ورپسې د خوست ولایت د حج او قافو رییس مولوي اظهارالدین د موضوع په ترڅ کې خبرې وکړې.
نومورې په خپلو خبرو کې په ډاګه کړه :((زه د ولسمشر حامدکرزي له لوري د سولې ملي مشورتي جرګې او په یاده جرګه کې د شویو پرېکړو او تصمیمونو څخه د خوست د عالمانو په استازیتوب، نه یوازې ننګه او ملاتړ اعلانوم، بلکې د خپل اسلامي مکلفیت له مخې به یې په پلي کېدو کې هر ډول هلې ځلې کوو.))
ورپسې څو نورو علماوو هم په وار سره د موضوع په اړه اوږدې خبرې وکړې او په پای کې یې یو پرېکړه لیک هم ولوست.
مور د خوست ولایت دیني عالمان او روحانین په ګډه د سولې ملي مشورتي جرګه چې دا جرګه د حامد کرزي په نوښت د افغانستان د زوریدلي ملت د ۱۶۰۰ تنو پیژندل شویو استازو په ګډون د کابل په ښار کې جوړه شوي وه، د دې جرګې د پرېکړو او تصامیمو څخه په غوڅه توګه خپله ننګه او ملاتړ اعلانوو، مور دیني عالمان د خپلو دیني او ملي مکلفیتونو په درک او دې اصل ته په پاملرنې چې سوله د ژوندانه له اړتیاوو څخه یوه مهمه اړتیا ده او د ټولو هېوادوالو کلکه غوښتنه هم همداده. د افغانستان د ولسمشر د ژمنې سره سم چې په هېواد کې د جګړې او وینو تویولو د پای ته رسولو او د سوله ییزې او پایدارې سولې د رسېدو لپاره یې هر اړخیز تلاش ترسره کړی، ملاتړ کوو او د دې پرېکړو په عملي کولو، د جنګ د مخنیوي او د پخلاینې د بهیر د ګړندیتوب په لاره کې خپلو ګډو هلو ځلو ته دوام ورکوو.

۱. مور د خوست د والي عبدالجبار نعیمي د هغو ښو او صادقانه خدمتونو چې د یوې سالمې اداري په منځته راوړلو، د اداري فساد په له منځه وړلو، د ځمکود غصب د مخنیوي، د امنیت، ملي یووالي، او د عدالت د تامین او د بیارغونې د چارو د ګړندیتوب په لار کې یې ترسره کړي، په دې وسیله خپل د مننې او رضایت مراتب وړاندې او په بشپړه توګه د هغوی ستاینه کوو او د خدای پاک جل جلاله له دربار نه دوی ته د لازیاتو بریالیتوبونو هیله کوو.

۲. د ولایتي اداري خصوصاً د ولایت مقام څخه په کلکه غوښتنه کوو، چې د اخلاقي فساد، د نشه یي توکو، خصوصاً شرابو، مبتذلو فلمونو او هر ډول فساد او ناروا اعمالو، ظلم د ځمکو د غصب، د رشوت په له منځه وړلو او د یوې پاکې او خدمت ګاري اداري په منځ ته راوړلو کې چې د عام ولس د ازار او خوروني باعث او سبب ونه ګرځي او خلکو ته رغنده او صادقانه خدمتونه وړاندې کړي، د هېڅ راز مرستو او تلاش څخه ډډه ونه کړي.

۳. د ولایت مقام نه په کلکه غوښتنه کوو، چې د مسجدونو او مدرسو په جوړولو، مسجدونو او مدرسو ته د فرش، برېښنا، لوډسپیکر د برابرولو، د مدرسو د مدرسینو او زده کوونکو لپاره د هر ډول مادي او لوژیستکي امکاناتو د برابرولو په لاره کې هر ډول مرستې او همکاري وکړي،
د غونډې په پای د خوست والي عبدالجبار نعیمي له لوري په راغلو دیني عالمانو یو شمېر ډالۍ ووېشل شوې.
د یادونې وړ ده، چې په لومړي ځل په خوست ولایت کې په دومره زیات شمېر دیني عالمان له دولت سره د همکارۍ په موخه د یوې غونډې په ترڅ کې راټولېږي.

فرهنگ و مبارزات ...

شهردار نواندیش شهر ما کهنه های دیگران را به حیث اندیشهٔ نو به رخ شهروندان می کشد. او خدمت به سر مایه و سرمایه داری را از راه فروش کهنه به نام نو انجام می دهد و در شهری که آبش ناصاف، خاکش ملوث، جاده هایش کثیف، کثافت دانی هایش در معرض نمایش آب و باد و عام و خاص قراردارد، شهری که در آن سوی پرده یی از خاک و دود قراردارد، به جای پاک نگهداری شهر از پاکی دیوارها حرف می زد، تا زیبایی شهر خدشه دار نشود. این اقدام کار بدی نیست، مگر به کدام هدف خدمت می نماید و نتایج آن چه می باشد؟
آیا شهر چنان زیباست که نمای آن با این تصاویر به گونهٔ منفی متاثر می گردد؟ و آیا این کار به صحت مردم خطری را به وجود می آورد و خطرناکتر از کثافاتی است که در همه جا پراگنده است و خطر شیوع امراض مانند ملاریا، کولرا، اسما یا نفس تنگی و ... می گرداند؟
همه در این متفق القول اند که پاک کاری زباله ها از شهر، تهیهٔ زباله دان های سرپوشیده در محلات، تشویق مردم به استفاده از زباله دان های تهیه شده و اعمار کانالیزیسیون شهرچون آب و هوا برای مردم ضروری اند.
با آنهم جلوگیری از کثیف شدن دیوارها، کار بدی نیست، مگر از لحاظ علمی سودمندی این اقدام، نتیجه و اثرات ناشی از آن چیست و اثرات جانبی این سیاست چه می باشد؟
هر اقدامی را می توانیم، از راه آسان ارزیابی نماییم، تا ضروری بودن و عادلانه بودنش را دریابیم. هر اقدام باید ضروری و متناسب باشد. آیا این اقدام ضروری تر از ضروریات دیگر است و آیا از نگاه منفعت و زیان برای شهریان (آنانی که در نتیجهٔ اقدام معین نفع و زیان می برند) متناسب است؟ پالیسی ها را ازنگاه علمی چنین ارزیابی می نمایند.
تاثیرات درازمدت این اقدام قابل ستایش خواهد بود، هرگاه سایر اقدامات دیگر هدف پاک نگهداشتن شهر را تایید نمایند. این اقدام دموکراسی پوشالی حاکم را در خدمت سرمایه قرار می دهد. شاروالی می توانست به دموکراسی نیز، خدمت نماید، مگر به نظر می رسد که این اراده را که نفعی به بار نمی آوردهنوز، در سر ندارد. شهردار برخورد نیمبی را در خدمت سرمایه و شهرت طلبی قرار می دهد و با عملکرد خود ابراز می دارد که من فعالم و برای بهبود شهر شما می اندیشم، هرچند در واقعیت چنین هم نباشد. تنها یک چیز در اندیشهٔ آقای نواندیش در رابطه با اعمارشهرک زیرزمینی در زیر دریای کابل، می توان نو یافت و آن ساختن شهرک زیبای زیرزمینی در زیر دریای پر از کثافت کابل است.
شهرداری می توانست، به جای وضع تعزیرات بر نامزدان در رابطه با نصب پوسترها و شعارهای انتخاباتی، که سرمایه و سرمایه سالار را کمک می نماید، به دموکراسی و مردم کمک نماید، عنعنهٔ تریبیون ها یا ستیژهای باز و عامه را که در دههٔ دموکراسی وجود داشت، به کمک کمیسیون انتخابات احیا نماید. اکنون صدای آنانی که به خاطر استقلال و دستان و قلب پاک شان نامزد شده اند و از میان مردم برای دفاع از حقوق مردم نامزد شده اند، به گوش همه نمی رسد. این اندیشه نیز نو نیست و می توانست احیا گردد. چرا چنین اقدام سودمند از اندیشهٔ آقای نو اندیش توانسته فرار نماید؟ آقای نواندیش می تواند خدمتگزاری و ابتکار خود را از راه خدمت به مردم و دموکراسی نشان دهد.
کار شهرداری را از راه ساده تقسیم فعالیت های شاروالی به عرضهٔ خدمات به شهریان و امورساختمانی می توان تقسیم و سپس ارزیابی کرد، آنگاه در مورد نواندیشی و انگیزه های آن می توان قضاوت کرد. چرا پلهٔ اولی در آسمان و دومی در زمین قراردارد؟
چنین است اندیشه و عمل به حیث سیمای روزانهٔ فرهنگ. گذار از این وضعیت به تغییر در حکومت و حکومتداری نیاز دارد. به همین لحاظ، از فرهنگ سیاسی و مدنی سخن گفته می شود.

پیش بینی پیروزی جنگ افغانستان ...

گام مهمی به سمت پیروزی است، از اینرو، تا حد امکان تلاش می کنند، تا این مسأله را در اولویت قرار دهند. شان نیلور دربارهٔ اینکه امکان پیروزی در جنگ وجود دارد، یا خیر گفت: به نظر من، جنگ افغانستان پر چالشترین جنگ برای امریکا بوده است؛ از این رو، پیش بینی شکست یا پیروزی در چنین جنگی بسیار دشوار است.
اما آنچه که مشخص است، مردم افغانستان روز به روز تنفر شان از ستیزه جویان بیشتر می شود. قطعا اگر آنها محبوبیت زیادی در میان افغان ها داشتند، کار نیروهای بین المللی بسیار دشوارتر می شد.
از این رو نیروهای بین المللی باید تلاش کنند، تا ارتباط خود را با قبایل جنوب در افغانستان که به طالبان نزدیکتر اند، بیشتر کنند، تا به این ترتیب، آنها را بیش از پیش در برابر ستیزه جویان قرار دهند.

په افغانستان کې روانې ناروغې تر ګردو لویه ستونزه

د افغانستان د عامې روغتیا وزارت وایي، چې په هېواد کې روانې ناروغي د پام وړ ستونزه ګرځېدلې ده او په کاږه چې اواري ته یې لازم تدابیر ونیول شي. دا وزارت وایي، د دې ناروغۍ د درملنې لپاره یې تر اوسه له زرو ځخه زیات ډاکټران او نرسان روزلي دي. په همدې لړ کې د شنبې پر ورځ هم د روانې ناروغیو له یو ه روزنیز ورکشاپ ځخه ځه باندې دېرش تنه ډاکټران او نرسان فارغ شول، چې په مرکز او ولایتونو کې به د ډاډې ناروغۍ ناروغانو ته د معاینې او درملنې امکانات په پام کې نیسي.

په افغانستان کې نا امنې، بې کاري، اقتصادي ستونزې، کورنۍ شخړې، د پوهې د سطحې ټیټوالی او داسې نور د دې سبب شوي، چې د هېواد زیاتره خلک پر روانې ناروغیو اخته شي.

د افغانستان دعامې روغتیا وزارت وایي، د دوی سروې ښیي چې په هېواد کې دمګړۍ کابو اویا فیصده خلک چې نارینه، ښځې او ماشومان په کې شامل دي، پر روانې ناروغیو اخته دي.

د عامې روغتیا د وزارت مرستیال ډاکټر صدرالدین سحر، چې د شنبې پر ورځ یې د اتو ولایتونو د روغتیایي مرکزونو ډاکټرانو او نرسانو ته د لنډ مهال روزنیز کورس په وروستۍ ورځ د فراغت سندونه وېشل ویي ویل، هڅې روانې دي، چې د دولت او نړیوالې ټولنې په مرسته په دې هکله تدابیر جدي شي: (په دې هکله دولت او نړیواله ټولنه غواړي، چې ولایتونو ته پام وکړي، غواړو چې د ولایتونو په روغتونونو کې لږ تر لږه لس بستره او په حوزوي روغتونونو کې شل بستره روانې ناروغانو ته ځانګړي شي او تر ځنګ یې د ډاکټرانو د ظرفیتونو لوړولو ته توجه وشي.)

د عامې روغتیا وزارت وایي، چې تراوسه یې د روانې ناروغیو لپاره د هېواد په مرکز او ولایتونو کې ځه باندې زرتنه ډاکټران او نرسان روزلي دي.

دا کورسونه د نړیوالې ټولنې او هیلت نېټ د موسسې له خوا تمویلېږي، دې روزنیز کورس کې چې د شنبې په ورځ یې فارغانو ته سندونه ورکړل شول. د لوګر، لغمان، دایکندي، ننګرهار، کونړ، ارزګان، خوست او پکتیا د ولایتونو د روغتونونو ډاکټرانو او نرسانو په کې ګډون کړی و.

د کورس ګډونوالو ویل، په ولایتونو کې اوسني اقدامات د روانې ناروغیو په نسبت کم دي او په کاږه، چې د روزنیزو کورسونو تر څنګ وسایلو او تجهیزاتو ته هم پاملرنه وشي.

د لغمان د ولایت، د روغتون یو ډاکټر سید حسن هاشمي ازادی راډیو ته وویل :(د دې اساسي لامل بې کاري ده، ځوانان مو د کار لپاره بهرنیو هېوادونو ته ځي او ببرته پر مخدروموادو اخته راستنېږي. بله دا چې له ډاکټرانو سره دې هم مرسته وشي، تر څو په دې هکله ښه خدمت وکړای شي.)

په هېواد کې د دې چارو کارپوهان هم د دې ناروغۍ لامل اقتصادي کمزوري او د خلکو د پوهې ټیټوالی ګڼي، دوی وایي، چې دولت ته په کار ده، خلکو ته د کار زمینه برابره کړي، تر څو د کار د بوختیا له امله له یوې خوا د خلکو اقتصادي ستونزې اواري او له بله پلوه خلک او په تېره نوی نسل له دې ناروغۍ څخه خوندي اوسي.

په پکتیا کې ۱۱ ملکي پاکستانیان ووژل شول

ناپېژاندو وسلوالو پرون سهار د پکتیا په ځمکنیو ولسوالۍ کې د کرمې ایجنسۍ د اوسېدونکو پر موټر برید وکړ او ۱۱ تنه یې ووژل.

د پکتیا د والي ویاند روح الله سمون د چنګاښ پر ۱۹مه وویل، چې دغه برید سهار شاوخوا اته بجې د ځمکنیو ولسوالۍ د نرۍ خوله په سیمه کې وشو.

سمون وویل، چې په برید کې درې تنه ټپیان شوي هم دي، چې دوه یې د لوګر اوسېدونکي دي.

کرمه ایجنسي چې د ډیورنډ له کرښې اخوا له ناامنو سیمو څخه ده، اوسېدونکي یې د ناامنیو له امله چې لارې یې پرې بندې کړې دي، ددغه هېواد نورو ښارونو (پېښور او اسلام اباد) ته د افغانستان له لارې ځي.

سمون وایي، چې دغه برید پر هغه فلاینګ کوچ موټر شوی، چې له ګردېز څخه د کرمې ایجنسي پر لور روان و.

ددغه خونړي برید مسوولیت تراوسه چا پر غاړه نه دی اخیستی.

طالب ویاند ذبیح الله مجاهد پژواک ته وویل، چې په دې اړه پلټنې کوي، ترڅو معلومه کړي چې برید کوونکي طالبان دي او که نه؟

خروج کامل نیروهای آلمانی از افغانستان تا پایان سال ۲۰۱۰

وزیر خارجهٔ آلمان می‌گوید، نیروهای این کشور تا پایان سال جاری میلادی (۲۰۱۰)، امنیت ولایت‌های شمالی افغانستان را به نیروهای محلی واگذار خواهند کرد.

به گزارش خبرگزاری رویترز، گیدو وستروله در بیانیه‌یی خطاب به مجلس فدرال آلمان (بوندستاگ)، اعلام کرد که نیروهای این کشور دستکم باید تا پایان سال ۲۰۱۰ میلادی، تامین امنیت یک ولایت از ۹ ولایت شمالی افغانستان را به نیروهای محلی واگذار کنند.

وستروله در این بیانیه گفته است: "ما می‌خواهیم، در این دورهٔ مجلس شرایطی را فراهم کنیم که طی آن مقدمات عقب نشینی مرحله به مرحله نیروهای آلمانی ایجاد شود ".

اعلام این عقب نشینی در حالی صورت گرفته است که بر پایهٔ نظرسنجی‌ها، بیشتر مردم آلمان خواهان بازگشت ۴۶۰۰ سرباز این کشور از افغانستان هستند.

بسیاری از نماینده گان مجلس آلمان نیز، بر این باور اند که دولت راستگرای این کشور باید تا پیش از انتخابات فدرال در سال ۲۰۱۳ میلادی، نیروهای آلمان را از افغانستان خارج کند.

بیانیهٔ وزیر خارجهٔ آلمان در آستانهٔ کنفرانس بین المللی منطقه‌یی منتشر شد که قرار است، ۲۰ جولای در کابل پایتخت افغانستان برگزار شود.

به گفتهٔ وستروله، ثبات در افغانستان نیازمند تلاش سیاسی است و تنها با نیروی نظامی و کمک‌های بشردوستانه برقرار نخواهد شد.

به رغم استقرار ۱۴۰ هزار تن از نیروهای امریکا و متحدانش در افغانستان، در ۹ سالی که از حضور نیروهای ناتو در این کشور می‌گذرد، نیروهای طالبان حتا با از دست دادن حکومت، هر روز قدرت بیشتری یافته‌اند.

تشدید حملات علیه دولت مرکزی و نیروهای خارجی و شمار روز افزون تلفات این نیروها به ویژه در چند ماه گذشته، حکایت از ناکامی امریکا و همراهانش در تسلط بر افغانستان و برقراری ثبات در این کشور دارد.

ماده نهم:
اعلامیهٔ جهانی حقوق بشر
احدی نمیتواند خود سرانه توقیف، حبس یا تبعید شود.
این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید:
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمد"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com